ډاکټر عبدالرحمن زماني ۲۳ فبرورى ۲۰۱۵

# پر اماني دورې دپوهاندکاکړ کتاب ته یوه کتنه

(لومړۍ برخه)

محترم پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ، دکابل پوهنتون د تاریخ پخواني استاد او سپین ږیرې مشر ته د هغوې ځینو شاګردانو دنومیالي افغان مؤرخ خطاب ورکړې اوځینو هم د هیواد د معاصر تاریخ د متخصص په نامه یادکړیدۍ .

ما د۲۰۱۲ م کال دجنوري دمیاشتې په اوه ویشتمه نیټه دکلیفورنیا په شمال کې دافغاني کلتوري ټولنې په نوښت هغې غونډې کې چې د پوهاند صاحب حسن کاکړ په ویاړ جوړه شوې وه، ویلي وو چې **«زمونږ په ګران هیوادافغانستان کې لکه د ارواښاد احمد على خان کهزاد، میرغلام محمد غبار او پوهاند عبدالحی حبیبی په شان ستر مؤرخین تیر شویدي** . خو کاکړ صاحب یواځیني کس دئ چې په تاریخ کې عالی علمي زده کړې لري، او پی ایچ ډي (دکتورا) یې پکې آخیستې ده، دوې د تاریخ د استادۍ دنده هم پر مخ بوولې او د هغو لړو کسانو په ډله کې هم دئ چې هم یې دافغانستان د خارجه چارو د وزارت د آرشیف او هم دافغانستان دملی آرشیف د لټولو چانس درلودلې، د انګلستان د بریتانوي هند آرشیف خو به لا نه یادوم. او تر ټولو مهمه لا دا چې اوس خو د مستبدو او مطلق العنانه رژیمونو د تهدید او سانسور ویره هم نشته، نو ځکه **هیله لرم چې په نژدې راتلونکې کې د دوې په قلم د افغانستان دمعاصر تاریخ په ډیرو تیارو برخو رڼا واچول شي»** .

«دپاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه» د پوهاند صاحب د هغه کتاب نوم دئ چې په ۱۶۲ مخونو کې په ۲۰۰۵ میلادي کال کې په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې د ټولنې په همت، او په پیښور کې د دانش خپرندویې ټولنې د تخنیکي څانګې لخوا چاپ شویدۍ .







د دغه لیکنې په تړاو دپوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ کتاب



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

د کتاب محترمه خپرندویه ټولنه د کتاب په پیلامي کې د یادښت په توګه د دغه کتاب د اهمیت په هکله لیکلي چې «د استاد کاکړ "د پاچا امان الله واکمنی ته یوه نوې کتنه" داسي یو اثر دئ چې د اماني دورې په هکله د یو شمیر نویو منابعو په رڼا کې ډیر نوي ټکي هم د تاریخ څیړونکو، شاګردانو او مینه والو مخې ته ږدي . دغه اثر په افغاني تاریخي څیړنو کې یوه په زړه پورې اضافه ده».

زه پدغه لنډه لیکنه کې د محترم کاکړ صاحب د دغه کتاب  محتوی ته لنډه کتنه کوم، او ګورو چې ددوی د دغه کتاب دنوم او محتوی تر منځ څومره تفاوت موجود دئ؟  ددوی په وینا دغه نوې کتنې کې څه شئ نوي دي؟ د واقعیاتو او تحریفاتو په ګډولو (پوخاې کولو) سره څنګه تاریخي پیښو ته جعلي روایات جوړ یږي، او په پاې کې په تاریخ کې د درواغو د ثبتولو دپاره  په موجودو منابعو او اسنادو کې څرنګه لاسوهنه شوې ده.

## د کاکړ صاحب د کتاب نوې منبع یا سرچینه

مخکې لدې چې د پوهاند صاحب کاکړ د کتاب نورو اړخونو ته لاړ شم ، د تاریخي لیکنو د سرچینو د اهمیت په نظر کې نیولو سره  به  لومړي د دوی د دغه کتاب تر ټولومهمې سرچینې باندې غږیږم . زه په پوره ډاډ سره ویلاې شم چې ډاکټر صاحب کاکړ د تاریخ دیوه استاد او مؤرخ په توګه په تاریخ لیکنه کې د اسنادو او مدارکو د سموالي او کره توب په اهمیت تر بل هر چا ډیر ښه پوهیږي . ماته د هغوی هغه وینا هم ډیره ښه په یاد ده چې په شمالي کلیفورنیا کې د افغاني کلتوري ټولنې په یوه محفل کې یې د محترم انجینیر صاحب وکیل متین او زما د«جنگ استرداد استقلال افغانستان، جبهۀ فراموش شدۀ چترال و کنر (حقایق نهفته و حرف های ناگفتۀ جبهۀ چهارم) د کتاب د مخ کتنې په مناسبت کړې وه:

«تاریخ چې تر څو په ښو ثقه معلوماتو باندې بنا نه وي، هغه (کې)حقیقت ته رسیدل بیا مشکل وي . تاسي داسي وګڼئ چې یو ختګر که غواړی یو تعمیر جوړ کړي، هغه اصلي مواد چې ورسره نه وي، هغه تعمیر شوړیږي. په بل عبارت سره د تاریخ لیکلو دپاره لومړی شئ ضروري ثقه مواد دي، او ډاکټر صاحب ډیر کوشش کړی...».

کاکړ صاحب د خپل دغه اثر د سرچینو او اسنادو په هکله د خپل کتاب په سریزه کې لیکلي چې «دپاچا امان الله د واکمنی په اړه په انګریزي او فارسي کې لیکني ډیرې دي . دلته ما له هغو لیکنو نه کار اخیستی، چې د هغه وخت کسانو کښلي لکه د منشي علي احمد د پاچا امان الله لویدنه، د فیض محمد کاتب کابل تر محاصرې لاندې، دمیر غلام محمد غبار افغانستان در مسیر تاریخ،.. » (۲ مخ).

کاکړ صاحب د خپلې لومړنی سرچینې د اهمیت په هکله، په خاصه توګه دیوې نادرې نسخې په اهمیت چې له لندن څخه ورته ښاغلي ډاکټر  عبدالعلي ارغنداوي استولې ده، داسي ټینګار کوي چې ګواکي « منشي علي احمد، د امان الله نسکوریدنه، د برتانیې د حکومت خپرونه، لندن، ۱۹۲۹، ۳ لیکونکی د غزني مومند، او د امان الله د دربار منشي او د معلوماتو خاوند و. د ده  دامان الله د دورې په فارسي کې دغه لیکنه د سکاټ په نامه یوه انګریز په انګریزي اړولې  او اوس په لندن کې په برتانوي کتابتون کې خوندي ده. په دغې لیکنې کې  د امان الله د واکمنی په هکله دغسي دقیق معلومات شته، چې په نورو اثرونو کې نه موندل کیږي » (۱۵۴ مخ).

په دغه کتاب کې  ددغه نوې منبع پر اهمیت او داچې لیکونکي یې د امان الله خان د دربار منشي او طبعاً د اماني دورې په هکله د لومړي لاس او مهمو معلوماتو خاوند وو، څو- څو ځله اشاره او ټینګار شوې، بلکې تر شلو ځلو زیات ترې مطالب نقل شویدي .

دلته د یادونې وړ ده چې د اماني دورې د تاریخ  سره زما د بې کچې مینې او تندې له امله څو کاله مخکې زه د کاکړ صاحب سره ددغه سند په موجودیت خبر او د هغوی سره د ښو اړیکو او کتابونو او اسنادو د تبادلې د سابقې په نظر کې نیولو سره  داده وم، چې زما هیله به ومنې او دا سند به د لوستلو دپاره راکړي . خو جناب کاکړ صاحب نه یواځې دا چې ماته ددغه سند دکاپي کولو، او یا دهغوی په موجودیت کې د لوستلو اجازه رانکړه، بلکې د حیرانتیا خبره خو لا دا وه چې ماته یې د هغه دښودلو څخه هم ډډه وکړه. زه د محترم کاکړ صاحب په دغه رویې لومړي متاثره شوم، خو بیا مې د ځان سره فکر وکړ چې خیر دئ، ځینې کسان غواړي چه مهم اسناد یواځې د هغوی په انحصار کې اوسي، خو ددغه مهم اثر د پیدا کولو تلوسه مې لا نوره هم زیاته شوه . په پاې کې زه بریالي شوم چې د خپلو څیرنیزو کتابونو د پاره د اسنادو د پیدا کولو په لړ کې د بریتانوي هند د ارشیف څخه د نورو اسنادو په ترڅ کې دا اثر هم لاسته راوړم، او کاکړ صاحب ته یې هم وښایم، او پر هغوی یې تصدیق کړم چې «هو! دا هماغه لیکنه ده»  .

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زه ددغه اثر په لوستلو سره د کاکړ صاحب د دغه غیر عادي  چلند په راز پوه شوم، اوپوه شوم چې دا آشنا لیکنه مې ځو کاله دمخه د انګلستان په آرشیف کي کتلي وه.  او دا راته ثابته شوه چې دا لیکنه نه یوا ځي د منشي علي احمد خان نه ده، بلکي منشی علی احمد خان هم هیڅ وخت د غازی امان الله خان منشی نه وو او د خپریدو کال یې هم د ۱۹۲۹ پر ځای ۱۹۳۰ م کال، او د خپریدو ځای یې هم لندن نه بلکي د هندوستان ډیلي وو .

د ډاکتر کاکړ دا منبع د انګریزانو د استخباراتو یو ریوټ دئ

هو! هغه لیکنه چه کاکړ صاحب پرې د خپل کتاب تر ټو د معتبرې، نادري او مهمي سرچینې په توګه استناد کوي، او دغازي امان الله خان د دربار د منشی (؟) د غزني د مومندو دعلي احمد خان په نوم یې یادوي،    The Fall of Amanullah یا د امان الله سقوط نومیږي ، چې د خپریدو کال یې ۱۹۳۰ م کال دئ .

دا لیکنه د افغانستان او د هغي د پولو (سرحدونو) په هکله د انګریزي استخباراتو د پټو اسنادو د دوسیو په فهرست کي چي اوس له محرمیته راوتلي او یوه برخه یې د ځیرونکو پر مخ پرانیستل شوي، په لاندي ډول پیژندل شویده:

**The fall of Amanullah.**
Translated from the Persian of Shaikh Ali Mahboub by Maj Robert Noel Girling Scott

Foreign & Political Department, Mar 1930
***Physical description:*** [2], 61p. map, 33cm.
***File number:*** L/P&S/20/B289
***Notes:*** Secret
Delhi: Government of India Press, 1930

د امان الله سقوط
د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ ژباړه
د باندنیو او سیاسي چارو څانګه، د ۱۹۳۰ کال د مارچ میاشت
فزیکي مشخصات :  ۶۱ پاڼي او نقشه
د دوسیې نمبر L/P&S/20/B289
یادونه : پټ (محرم)
ډیلي، د هند د حکومت چاپځای . ۱۹۳۰







دا لیکنه چي د پوهاند کاکړ او نورو لخوا په جعلي توګه د غازي امان الله خان د دربار پر جعلي منشي باندي تپل شوې، دافغانستان د خپلواکی د ګټونکي  غازي امان الله خان پر وراندي د انګریزي ډیرو تخریبي تبلیغاتو سرچینه،  ( ۶۱ ) مخه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لري، او دغزني او د هغې د شاوخوا سيمو يوه هغه نقشه هم پکي ځاي پر ځاي شوي چي په بريتانوي هند کي د انګريزانو استخباراتي ماموورينو جوړه کړيده.

دا ليکنه په لسو برخو کي تنظيم شويده چي لومړۍ برخه کي يې د سر خبري، دوهمه کي دافغانستان د پرمختګ دپاره د غازي امان الله خان اصلاحاتو، دريمه برخه کي اروپا ته د غازي امان الله خان سفر او هغه پيښي چي په دغه موده کي شوي، څلورمه برخه کي د سفر نه د غازي امان الله خان راستنيدل و د لويي جرګي جوړول، پنځمه برخه کي د اغتشاشاتو عوامل، شپږمه برخه کي د شينوارو اغتشاش، پر کابل د حبيب الله کلکاني حمله او قندهار ته د غازي امان الله خان روانيدل، اومه برخه کي د کندهار پيښي ، اتمه برخه کي قندهار ته د عنايت الله خان رسيدل، د مقر پيښي او هرات ته د تګ تياری، نهمه برخه کي د غازي امان الله خان په چارو کي د روسيي او ايران دلچسپي، او لسمه برخه کي د غزنی پر لوري د غازي امان الله خان پرمختګ او بيا د افغانستان نه وتل راغلي دي .

د افغانستان په هکله په لندن کي د بريتانوي هند په دفتر پوري مربوط د انګريزانو په آرشيف کي د موجودو اسنادو په لړ کي پر محرمانه رپوټونو، مکتوبونو، تلګرامونو او ورځنيو استخباراتی رپوټونو سربيره چي د څېړونکو او مؤرخينو دپاره اهميت او تاريخي ارزښت لري، د لارو، پولو، اشخاصو او قامونو، او کلنيو رپوټونو په شان داسي اسناد هم شته چي د انګريزي استعمار دپاره يې سوق الجيشي ارزښت درلود.

البته د څو کلنو رپوټونو په ترڅ کي دا د آرشيف يواځيني رپوټ هم ندئ . په لاندني جدول کي داډول ګڼ شمير رپونه شامل دي:

| د بريتانوي هند د انګريزي مسلمانو ايجنټانو او مأمورينو لخوا د ۱۹۰۷ او ۱۹۴۱ کلونو ترمنځ دجوړو شوو رپوټونو څو بيلګي | |
|---|---|
| Final report on Afghanistan by Fakir Saiyid Iftikhar-ud-Din, British Agent at Kabul. [Government of India Foreign Department], 1907-1910. | په کابل کي د انګريزانو د ايجنټ فقير سيد افتخارالدين لخوا د افغانستان په هکله وروستني رپوټ [ د هند د حکومت د باندنيو چارو دفتر]، ۱۹۰۷ تر ۱۹۱۰. |
| Final report on Afghanistan by Malik Talib Mehdi Khan, British Agent at Kabul, [Government of India Foreign Department], 910-1913. | په کابل کي د انګريزانو د ايجنټ ملک طالب مهدي خان لخوا د افغانستان په هکله وروستني رپوټ [ د هند د حکومت د باندنيو چارو دفتر]، ۱۹۱۰ تر کلونه۱۹۱۳. |
| Précis on Afghan affairs. Lt-Col Charles Joseph Windham, Indian Army [Government of India Foreign & Political Department]. | د ډګرمن چارلس جوزيف ويندهم لخوا د افغانستان د چارو لنډيز [ د هند د حکومت د باندنيو او سياسي چارو دفتر]. |
| A précis on Afghan affairs from February 1919 to September 1927. Compiled by Richard Roy Maconachie Foreign and Political Department, Government of India. | د ۱۹۱۹ کال د فبروري څخه د ۱۹۲۷ کال د سپتمبر پوري د ريچارد مکوناچی لخوا راټول شوي د افغانستان د چارو لنډيز [ د هند د حکومت د باندنيو او سياسي چارو دفتر]. |
| Summary of events in Afghanistan 1st July 1928 to 30th Jun 1929. Compiled by the General Staff. | د هند د حکومت دپوځي قوماندانی لخوا د ۱۹۲۸ د جولاي د لومړی نيتي څخه د ۱۹۲۹ کال د جولاي تر ۳۰ مي نيتي پوري د افغانستان د پيښو لنډيز. |
| The fall of Amanullah. Translated from the Persian of Shaikh Ali Mahboub by Maj Robert Noel Girling Scott Foreign & Political Department, Mar 1930. Delhi: Government of India Press, 1930. | د امان لله سقوط، د شيخ علي محبوب د فارسي څخه تورن رابرت نوئل ګيرلينګ سکات ژباړه، د باندنيو او سياسي چارو څانګه، د ۱۹۳۰ کال د مارچ مياشت . ډيلي، د هند د حکومت چاپځاى . |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولـئ

| | |
|---|---|
| Review of events in Afghanistan 1st July 1931 to 30th June 1932. Compiled by the General Staff. Simla: Government of India Press, 1932. | د ۱۹۳۱ د جولاي د لومړی نیټي څخه د ۱۹۳۲ کال د جون تر ۳۰مي نیټي پوري د هند د حکومت دیوځي قوماندانی لخوا راټول شوی د افغانستان پیښو ته کتنه . |

که چیری دتل په شان د پوهاند کاکړ صاحب دا ادعا رښتیا وي چي په انګلستان کي یي د خپلي اوه کلني زده کړي په موده کي د انګریزانو د آرشیف څخه ګټه اخیستي او د دغو دوسیو دومره دوري یي تنفس کړي چي سري یي لا تر اوسه خوريږي، نو بیا خو به ددغو آثارو په موجودیت هم خبر وي، او دا به ورته معلومه وي چي د امان الله خان د سقوط یا پریوتني لیکنه د منشي علی احمد خان نه ده، بلکي د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ هغه ژباړه ده چي د باندنیو او سیاسي چارو د څانګي لخوا د ۱۹۳۰ کال د مارچ په میاشت کي په ډهلي کي خپره شویده.

(د لومړی برخي پای)

## سرچیني

1. دپوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ د ویاړ غونډي راپور، لر او بر ویب پاڼه www.larawbar.net/31617.html
2. پوهاند ډاکتر محمد حسن کاکړ، «دپاچا امان الله واکمنی ته یوه نوي کتنه».
3. د شیخ علي محبوب د فارسي څخه د تورن رابرت نوئل ګیرلینګ سکاټ ژباړل شوي، د انګریزانو استخباراتي رپوټ L/P&S/20/B289
4. ډاکتر عبدالرحمن زمانی، «بازنگری دورهٔ امانی و توطئه های انگلیس»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ